مطیع الله عابد

۲۰۱۴/۰۶/۱۸

افغانستان نه مري

د جوزا درویشتمه نیټه،د خوست د ټنیو په یو کلي کې د جواز خان په کور کې شور او انګولا ده. وړه لور یې په کټ پټې سترګې پرته ده او سرې سترګې مور او بد حاله ادې یې سرته ناستې ژاړي. خو جواز خان کله د لور پټو سترګو ته ګوري او پټ پټ زړه کې ژاړي او کله مور او میرمن ته په سترګو سترګو کې وایي چې پام چې غږ مو د کوره ونه ووځي. پام چې څوک خبر نشي چې موږ کره مړی شویدی. پام چې څوک خبر نشي. زه نه غواړم چې زما غم د کلي خلک د خپل اصل مسولیت نه پاتې کړي.فکر د ملت نه پاتې کړي.

جواز خان خپل ګرانه لور همداسې په توره کوټه کې د هغې د مور سره پرېږدي او ورته وایي چې ترڅو موږ بیرته نه یو راغلي ته به د کوټې نه او د لور د مرګ خبر به د کوره بهر نه ووځي. د ګلالۍ لور دریم ګلې سرې جامې او شنه واړه واړه بنګړي د هغې کفن شي ،هغه د پلار د کوره همداسې راسا ګور ته روانه ده.خو پلار یې ورته وایي صبر صبر اول د ستر کور غم وخورو ،بیا به د خپل کور غم یادوو. مړه ده خو کور نه تر ګوره نه ده رسیدلې .ځکه چې پلار یې وایي چې زما لور مړه شویده خو احساس مې ژوندی دی.

هغه احساس چې د جو په څلیرشتمه ټول ولس کې را ژوندی شو او د کورو ووتل. خپل کارونه ،فکرونه او غمونه یې شاته پرېښودل او د رایو ورکولو مرکزونو ته لاړل.

جواز خان هم د کور ټول غړي را غونډ کړل او ورته یې وویل چې ګورئ نن زما د ځان نه، د افغانستان ورځ ده. زما لور مړه ده،خو افغانستان ژوندی دی. انسانان خو پیدا د مرګ دپاره دي،خو چې قام مړ نشي. ما په دې دیرش کلنو کې ډېر ورونه، خوبونه او ارمانونه قربان کړیدي،نو همدې ورځ دپاره. نن قام د خپل حق د ویلو او غوښتلو دپاره ووځي.نو راځئ چې موږ هم لاړ شو او خپل غږ د هر بل غږ سره ملګری کړو. خپله ژړا هیره کړو او د قوم په درد کې خپل درد فنا کړو. نن ژوندون ورځ ده ،د بدلون ورځ ده. موږ ټول عمر غمونه،دردونه او مرګونه لیدلي ،راځئ چې د نوي ژوند په تکل کې ووځو.

جواز خان د کوره ووځي او شاته شاته ګوري، د خپلې ګلالۍ لور ښکلې څېره یې مخې مخې ته کیږي. پرونه پورې روغه جوړه وه. خندلې او وړې وړې خبرې یې کولې. دادا دادا یې ورته ویل. په خندا خندا ورته ویل.خو بس پرون ناڅاپه یې په خیټه درد شو ،د کلي د ډاکټر دوا یې هم شفا نشوه. وړه ماشومه په همدې درد او تکلیف کې سترګې پټې کړې. جواز خان پخپلو سترګو لاس کیښود چې څوک یې اوښکې ونه ویني او د لور مینه یې د وطن د مینې مخې ته ونه دریږي. هغه د رایو ورکولو کارت را واخیست او چابک چابک روان شو. د کور ټول غړي ورپسې وو او ځان یې د راېو ورکولو مرکز ته ورسوه.

د کورنۍ ټول غړي پوهیدل چې د جواز خان په زړه به څه تیریږي، د یوې نازولې لور مرګ، په کور کې پروت د هغې مړی، سرې سترګې مور او میرمن او د لور د مرګ غم. خو دوي حیران وو چې جواز خان دا هرڅه هیر کړي وو او د کلي د خلکو سره په قطار کې ولاړ د خپل نوبت انتظار کوي ،هغه ګوته توره کړه او د خپل فکر په تصویر یې نښه ولګوله .راېې په صندوق کې واچوله او د لور د تابوت په فکر کې راووت. لور یې مړه ده خو احساس یې ژوندی دی.

جواز خان د هغو میلونو افغانانو نه یو افغان دی چې د جوزا په څلیرشتمه د کوره ووتي ،د پیغوره او د روښانه سباون په لوره وتي. دوي ټول پوهیږي چې افغانستان د همدوي دی. که هجرت و، نو همدوي کړی ،که مصیبت دی په همدوي تیر شوی. که غم دې همدوی ګاللی، که مرګ دی هم دوي لیدل. دوي ټول افغانان دي. دوي کې هر یو افغانستان دی. نو چې افغان نه مري نوافغانستان به څنګه مري. افغانستان خپل احساس لري. خپل جواز لري. جواز خان لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جواز خان چې پوه شو چې ټول کلي ولس راپې ورکړه. خلکو د ملت حق ادا کړو. د افغانستان غم پې وخوړ. نو بیا ده د کلي مشر ته غریو نیولي وویل. ملک صاحب. بیګا مې وړه لور مړه شوې . نو که تاسو پې د جنازې اعلان وکړئ، چې قام مې غم کې شریک شي. د کلي مشر ورته حیران حیران ګوري. چې لور دې بیګا مړه شوې. غم درباندې شپه سبا کړې. د لور مړی دې کور کې پرېښی او ته راغلی خلکو سره راپې ورکوې. سلام ستا عظمت ته سلام .ستا دې مینې او محبت ته سلام .سلام ستا جرات او افغانیت ته سلام.

کلي کې غږ شو چې د جواز خان وړه اته کلنه لورکی دریم ګله بیګا په حق رسیدلې ده ،نن مازدیګر پې جنازه ده. د ټول کلي خلک د رایو ورکولو نه پس د جواز خان د حق ادا کولو دپاره ادیرې ته روان شو.همدا زما د وطن قسمت دی چې د ادیرو نه جرګو ته او د جرګو نه لوړو مقامو ته مزل کوو. مرو هم د وطن دپاره او پاڅو هم د وطن دپاره. همدلته مو ژوند او هم دلته مو مرګ دی. همدا کلی کور مو تخت او همدا مو ارګ دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ